حبیب مایار ۲۰۱۰/۰٤/۰۱م

# د غبږ سړی به وژل کیږي

ډېر ځله د خپل هېواد زړه بوږنوونکو پېښو او وژنو ته فکر کوم دا پوښتنه راسره پیداکیږي چې ولې او ترڅو؟ خو د خپل فکر هېڅ سر او بر نشم ور وستلای. ځکه که چېرې د بهرنیانو نادودو ته فکر کوم، نو بېرته خپل دولت او خپله افغانان هم یو څه تر ملامتی لاندې رانه نیول کیږي، هغه په داسې ډول چې همدا افغانان وو، چې بهرنیانو ته یې لبیك وایه او هم یې اوس ورته وایي، بهرنیانو ته خپله د افغانانو له خوا لاربښوونه ورکول کېده، چې څه وکړي، کومې خواته لاړ شي، چېرته بم واچوي، په کوم ځای کې ملېشه خوشې کړي، له چا څخه سر پرې کړي او....

له هغې ورځې څخه چې بهرنیان افغانستان ته د سولې او د تروریزم د له منځه وړلو په پلمه داخل شوي، په زرګونو بې ګناه افغانان یې له منځه وړي دي. پرته له هغو چې د دوی په وړاندې یې جبهه نیولې، په زرګونو افغانان د بمونو، بمباریو، حملو او چاپو قرباني شوي دي. غواړم بېرته د خپل فکر په لور لاړ شم، دا چې زه ولې نشم کولای چې د دا ډول پېښو په اړه فکر وکړم هغه هم د جنوبي او جنوب ختیځو ولایتونو په اړه، خو د دې ډول فکر په اړه مې څو ورځې وړاندې د خپل یوه دوست خبرې چې له یوه هلمندي سره یې کړې وې، له تاسې سره شریکوم.

نوموړي له یو داسې هلمندي سره خبرې کړې وې، چې د زده کړو د نعمت لرونکی و. له هلمندي یې پوښتنه کړې وه، چې ولې ستاسې په ولایت کې د نورو ولایتونو په پرتله ډېره نا آرامي ده او ولې د داسې پېښو مخنیوی نه کیږي، په داسې حال کې چې په ډېرو نورو ولایتونو کې هم ستاسې د ولایت په ډول مخالفین شتون لري او هلته هم مخالفینو د جهاد غبږ پورته کړی دی او هلته هم طالبان شتون لري خو بیا هم ښوونځي شتون لري، ژوند روان دی او د هلمند په ډول هره ورځ د جګړې او وژنو غبږ نه ورڅخه اورېدل کیږي. خو نوموړي ورته ویلې، چې دا سمه ده چې نور ولایتونه د هلمند په ډول نه دي. خو که چېرې په هلمند کې د بېلګې په توګه زه غبږ پورته کړم چې ولې پر موږ داسې حال دی؟ راځئ چې سره کښېنو اړو خبرې وکړو، ته یې په یقین سره ومنه چې دویمه یا دریمه ورځ ما وژني، البته چې دا وژنه کومې ډلې ته منسوبه نه ده، بلکې خامخا به داسې یو کس چې خپل غبږ پورته کړي یا د دولت، یا بهرنیانو او یا هم د طالبانو له خوا څخه وژل کیږي، د نوموړي هلمندي له خبرو ښکاري چې په دې هېواد کې د روغجنې دموکراسۍ د اصولو له مخې د بیان آزادي څه چې د حق غوښتل هم د یو چا د وژلو لامل کېدای شي، دلته اوس څوك نه شي کولای چې ووایي، دا ولې داسې کیږي، دا ولې هره ورځ وژل کیږو. صمد روحاني او سلطان منادي هم د همداسې حالاتو قرباني شول، هغوی هم غوښتل چې ووایي چې دا ولې په لوی لاس د افغانانو د له منځه وړلو لپاره پروګرامونه نیول کیږي، خو هغوی تر دې پورې ونه رسېدل چې خپل غبږ پورته کړي، ځکه چې هغوی په هلمند او کندوز کې د افغانانو د مړینو لپاره د پروګرامونو د جوړولو له حقایقو څخه خبر شوي و.

یوې وړې ولسوالۍ مارجې ته د ۱۵۰۰۰ بهرنیو او کورنیو سرتېرو لېږل او هلته د ډېرو شدیدو عملیاتو ترسره کول د همداسې کړنو ګواهي ورکوي، ځکه چې په یوازې مارجه به څه وکړي د کابل پغمان ته چې د کابل ډېره نژدې ولسوالي ده، د دولت کوم لوړ پوړی چارواکی د ډېرو شدیدو امنیتي تدابیرو پرته نه شي کولای لاړ شي، ځکه چې هلته امنیت نشته، چې د کابل په زړه کې امنیت نه شته نو بیا دومره لرې پرتو ولسوالیو ته اړتیا نشته لومړی باید د پلازمېنې غم وخوړل شي. خو ښکاره خبره ده چې مارجه، شینډنډ، شاه ولي کوټ او دای چوپان سیمې له مطبوعاتو لرې پرتې سیمې دي هلته ژورنالیستان په ډاډه زړه نه شي تلای، ځکه چې وژل کیږي له همدې امله دوی کولای شي چې هلته د وژنو لپاره په ډاډه زړه او آرامه فضا کې ښه پروګرامونه پلي کړي، که چېرې سل کسه ملکي کسان په بمبارۍ کې وژل کیږي دوی کولای شي چې د دوه یا دریو د ټپي کېدو خبر ورکړي او یا یې هم د مخالفینو په ډول کې وشمېري. ځکه چې اوس د افغان وژنې د پوښتنې څوك نشته او نه یې هم څوك پوښتنه کوي. که هره بلا پرې نازلیږي بس د چارواکو له خوا د څو کسانو لپاره سفریه او د څو ورځو ډېل معاش برابریږي څو هلته په سیمه کې د دروغو پلټنه وکړي او بس.

سره د دې چې هغوی هېڅ هم نه شي کولای، ځکه دې څو کسانو پلاوي ته هم د وژونکو له خوا څخه معلومات ورکول کیږي، هغوی نه شي کولای چې د هېواد له ځوربېدلي ولس څخه معلومات واخلي او بیا مشر صیب ته کره معلومات وړاندې کړي. خو دا ډېره د افسوس خبره ده چې د هېواد چارواکي د خپل ملت د بې ګناه وژنو پوښتنه نه شي کولای.

اوس اوبه له ورخه تېرې دي، اوس مو هر څه پلورل شوي دي، ان تر دې چې له یو چا مې واورېدل چې بهرنیانو هېواد ته د لومړي ځل راتلو په وخت کې له دولت سره قرارداد لاسلیك کړی چې په جګړه کې د وژل شوو کسانو پوښتنه به نه کیږي. نو که چېرې په رښتیا هم داسې وي، بیا خو مو په ښکاره توګه هر څه پلورل شوي دي اوس موږ د خپلو سرونو واك او اختیار نه لرو.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

ډېر کسان دي جګړې ته د ترياکو جګړې وايي، دوی وايي چې هلمند د ترياکو مرکز دی او په دې ناوړه سوداګرۍ کې ډېر کورني او بهرني لوړ پوړي چارواکي شامل دي له همدې امله دوی نه غواړي چې د هلمند او ارزګان په ډول ولايتونه ارام وي. ځکه چې بيا د دوی سوداګرۍ ته زيان اړوي، خو که دوی سوداګري کوي او که هره څه! خو موږ ته يوازې د خپلو هېوادوالو ژوند او آزادي ارزښت لري، نور نه غواړو چې د هلمند په ډول عمليات په نورو ولايتونو کې هم پلي شي څو د بهرنيانو لپاره د افغانانو د وژنو او تباهۍ لارې اوارې شي.

پای


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
**يادونه**: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ